**مشرک چینایان؛ د اسلام او مسلمانانو دښمنان!**



چیني چارواکو د ایغور په ځانګړې توګه د سینکیانګ مسلمانانو پر وړاندې یو لړ مجازات صادر کړل؛ ځکه هغوی په مرکزي اسیا کې د اسلام له بیا ظهوره، چې د مسلمانانو له کمزورۍ په ګټې اخیستنې ترې غصب شوی، په وېره کې دي. له انډیپنډېنټ خبرپاڼې څخه په نقل: «چیني چارواکو په سینکیانګ سیمه کې د (قران کریم او جاینمازونو) د ټولولو امر صادر کړی او مخالفینو ته یې د مخالفت په صورت کې د سختو سزاګانو ګواښ کړی.»
دغه‌راز یوه تبعید شوي رهبر وویل: «د ایغور مسلمانانو مجازات دا دي چې هغوی باید ټول هغه څیزونه چې په دیني چارو پورې تړاو لري، تسلیم کړي؛ که نه نو له سختو سزاګانو سره به مخ شي.»
یو تبعید شوي کس "دلکست راکست" د ایغور ازادۍ رادیو په نړیوال کنفرانس کې، چې امریکا یې اداره کوي، وویل: «موږ یې ګواښلي یو چې هر ایغور باید په اسلام پورې اړوند ټول څیزونه لکه: قران، جاینماز او بل هر څیز چې د دین سمبول دی، تسلیم کړي.» همدارنګه له انډیپنډېنټ خبرپاڼې څخه په نقل دا ګواښ "ویشات" ټولنیزو شبکو اعلان کړی او په اصل کې د قزاقستان او قرغېزیستان مسلمانانو ته هم متوجه کېږي.»
د مسلمانانو چارواکي هڅه کوي چې چین د امریکا د ولکې ځایناستی کړي. دا په داسې حال کې ده چې مشرک چینایان د اسلام دښمنان دي. مسلمانان به هغه مهال د پردیو له ولکې خلاص شي، تر څو چې پر خپل نفس باور پیدا کول زده کړي او پر خپل دین او خالق الله سبحانه وتعالی تکیه وکړي؛ هغه مهال به یې نړۍ تر پښو لاندې وي.